Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت



# آبادي

د ریاست الــوزراء اقتصادي معاونیت
## میاشتنۍ

گڼه ۹

درېیم کال - ذو القعده





> افغانستان اوســمهال د ترانزيټ، سوداګرۍ، پانګونې، منطقوي وصل او سيمه‌ييزو همکاريو لپاره په يو مأمون او مناسب هېواد بدل شوی دی. په افغانســتان کې د پانګونې زمينې په برابرېدو سره نــه يوازې افغانانو، بلکې بهرنيو پانګوالو ته هم فرصت برابر شوی او دوی کولی شي دلته د برېښـــنا، کانونو، کرنې، ترانسپورټ، زېربناوو، ټکنالوژۍ، روغتيا او مخابراتو ترڅنګ په نورو سکټورونو کې پانګونه وکړي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

- ۱۴۰۳ لمریز کال کې پرانیستل شویو پروژو ته کتنه
- قرارداد ساخت فاز دوم قطعه چهارم خط آهن خواف - هرات به امضاء رسید
- Overview of Projects Initiated in 1403 SH

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست


بسم الله الرحمن الرحیم

# آبادي

۹ گڼه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي او فضل ولي شیراني

**مسئول مدیر:** مولوي خالق‌داد تقي

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** سید عشرت رحمتي

**چاپ:** بهیر مطبعه



پته: مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

ټیلیفون: 0202107500

برېښنالیک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


| | |
|---|---|
| سـرلـيـکـنـه | ۱ |
| غـونـډې | ۲ - ٦ |
| د پـروژو پـرانيسته | ۷- ۱۸ |
| کنفرانسونه، ناستې او سفرونه | ۱۹ - ۲۷ |
| د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې | ۲۸- ۳٦ |
| د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال پيغامونه | ۳۷- ۳۸ |
| انګليسي برخه | ۳۹ - ۴۸ |

# سرلیکنه

د افغانستان اسلامي امارت د اوبو مدیریت، برېښنا، ټرانسپورټ، صنعت او زېربناوو سکټورونه په خپلو لومړیتوبونو کې نیولي او موخه یې په دې برخه کې پر ځان بسیاینه ده. افغانستان د دغه سکټورونو په برخه کې ښه ظرفیتونه لري او اسلامي امارت له دې ظرفیتونو څخه د ښې استفادې په موخه عملاً چارې پیل کړې دي.

اسلامي امارت د دغو سکټورونو د ښه مدیریت لپاره قوي هوډ لري چې په پایله کې یې کولای شي هېواد د ځان‌بسیاینې په لور سوق کړي. په تېرو دوه لسیزو کې د جګړو، سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ، اقلیمي بدلون او ورځ تر بلې زیاتېدونکی نفوس هغه لاملونه وو، چې افغانستان یې له سختو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړی دی، نو اوس اړتیا ده، چې د هېواد ځان بسیاینې، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو ترڅنګ دغو سکټورونو ته پام وشي او په دې برخه کې خصوصي سکټور ته هم د پانګونې زمینه مساعده شي.

د اوبو مدیریت په برخه کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، اسلامي امارت د هېواد په کچه د هغو بندونو په اړه څېړنې پیل کړې چې چارې یې نیمګړې پاتې دي او د پاشدان بند د پاتې چارو پیل یې یوه ښه بېلګه ده. د پاشدان بند پروژې په بشپړېدو سره به زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي، شاوخوا ۵۴ مېلیونه مترمکعب اوبه به ذخیره، ۱۳ زره هکټاره ځمکه به خړوبه او دوه مېګاواټه برېښنا به تولید شي.

د برېښنا اهمیت ته په کتو په دې برخه کې هم پرمختګ شوی او هڅې روانې دي تر څو په هېواد کې د برېښنا ستونزې پای ومومي. د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د حمل میاشتې په پنځمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د شاوخوا څلور مېلیارده افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید او د دې برخې اړوند دوو پروژو تړونونه لاسلیک شول. دغه پروژې د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید او په هرات ولایت کې د دوه سب سټېشنونو جوړول او د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځول شامل دي.

د ټرانسپورټ سکټور اهمیت ته په کتو اسلامي امارت د لویو لارو او په ښارونو کې دننه سړکونو د جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې کړې دي. په دې لړ کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات – غور سړک د جوړولو چارو پرانیسته وکړه. دغه راز د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د خیرخانې کوتل سړک دوهمه برخه، له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک لومړۍ برخه او د هوايي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې د غځېدلي سړک جوړولو پروژې پرانیستل شوې.

اسلامي امارت د صنعت اهمیت ته په کتو ددې سکټور د پیاوړتیا او پرمختګ له پاره ګامونه پورته کړي دي او په دې برخه کې پرمختګ هم شوی دی. د ۱۴۰۳ لمریز کال د حمل میاشتې په پنځمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې دوهم او درېیم فازونه چې ۵۰ میلیونه افغانۍ پانګونه پرې شوې، پرانیستل شول. دغه راز په هرات ولایت کې د روان لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د درملو جوړولو دوې فابریکې او د غیر الکولي مشروباتو یوه فابریکه پرانیستل شوې.

زېربناوې د افغانستان د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره یو مهم عنصر دی. د افغانستان اسلامي امارت د زېربناوو په برخه کې پانګونې لپاره هڅې ګړندۍ کړې دي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د حمل میاشتې په ۱۹مه نېټه د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

اسلامي امارت اقتصادي ثبات ته د هېواد د رسېدو په پاره په مختلفو برخو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړی، چې پورتنۍ پرانیستل شوې پروژې یې ښې بېلګې دي.



د اقتصادي او ملي تدارکاتو کمېسیونونو، د پانګونې بین الوزارتي او د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټو

# غونډې

ملي تدارکاتو کمېسیون

# د شاوخوا یوولس میلیارده افغانیو په ارزښت پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ؛ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۱۱ میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۲۴ پروژو قراردادونه منظور کړل. د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتې غونډې ته چې د روان لمریز کال د وري میاشتې په ۱۵ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۲۹ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۲۴ پروژو قراردادونه منظور، د څلورو لغوه او د یوې پروژې د قرارداد په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې په هراړخیز ډول یې وڅېړي او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون غونډې ته وړاندې کړي.

په منظور شوو پروژو کې د کابل – کندهار لویې لارې د اساسي بیارغونې د پاتې چارو بشپړول، د کنړ – نورستان سړک د تخریب شوو ساحو بیارغونه، په مختلفو ولایتونو کې د افغانستان برېښنا شرکت اړوند پروژې، د ملي دفاع وزارت د مرکزي قطعاتو او جزوتامونو لپاره د هغوی د اړتیا وړ توکو برابرول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې په پلې کېدو سره به یې سلګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.



# د جواز سیر او لایسنس

## د الکترونیکي کېدو پر طرحه بحث وشو

د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دغه غونډه کې له اجنډا سره سم د جواز سیر او لایسنس د الکترونیکي کېدو پر طرحه او یوشمېر نورو موضوعاتو هراړخیز بحثونه وشول.

په غونډه کې تر هراړخیز بحث وروسته د احصایې او معلوماتو ملي اداري کاري فشار ته په کتو اقتصادي کمېسیون ته وړاندیز وشو، چې د جواز سیر او لایسنس الکترونیکي چاپ دې د ترافیکو عمومي ریاست ته وسپارل شي. د ترافیکو عمومي ریاست دې د کورنیو چارو وزارت په همغږۍ ژر تر ژره د عامه مشارکت له لارې د جواز سیر او لایسنس الکترونیکي پروسې لپاره دې امکانات برابر او د تاییدۍ لپاره دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.





# د لمریزې او بادي برېښنا

## پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې په نوبتي غونډه کې چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د لمریزې او بادي برېښنا د تولید، سوداګریزو مرکزونو او کرنیزو کمپلېکسونو د جوړولو طرحو په اړه بحث وشو. په غونډه کې له اجنډا سره سم د خصوصي سکټور له لوري په هرات ولایت کې د ۵۰ مېګاواټه بادي برېښنا، په بلخ ولایت کې د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا، د غزني ولایت په مرکز کې تر ځمکه لاندې د سوداګریز مارکېټ جوړولو، د هېواد په پنځو زونونو کې د کرنیزو کمپلېکسونو رامنځته کولو او همدارنګه په کابل ښار کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو په اړه هراړخیز بحث وشو. له مفصلو بحثونو وروسته ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره د یادو طرحو د مالي، تخنیکي او اقتصادي اړخونو د ارزونې په موخه ګډ مجلسونه وکړي او خپل راپورونه په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# د غنمو د تولید

## په برخه کې د ځان بسیاینې ستراتیژۍ په اړه بحث وشو




د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه او له اجنډا سره سم پر ټاکل شویو موضوعاتو بحث وشو. دغې غونډې ته د نورو موضوعاتو ترڅنګ د غنمو تولید په برخه کې د ځان بسیاینې ستراتیژي وړاندې شوه چې تر هر اړخیز بحث وروسته د یادې کمېټې د قناعت وړ وګرځېده او د تائیدۍ لپاره اقتصادي کمېسیون ته واستول شوه. دغه ستراتیژي د هېواد د ملي اقتصاد د پیاوړتیا او خوړو خوندیتوب په موخه جوړه شوې، چې په تطبیق سره به یې د غنمو د تولید کچه زیاته او په کیفیت کې به یې د پام وړ ښه‌والی راشي.





# د پروژو
# پرانیسته

# د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې
## دوهم او درېیم فازونو پرانیسته وشوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې د ګول سیخونو دوهم او اوسپنیزو ګاډرو د تولید درېیم فازونه د ۱۴۰۳ لمریز کال د وري میاشتې په پنځمه نېټه د یولړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شول.

په همدې موخه جوړې شوې غونډې ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال د صنعت سکټور د پرمختګ په برخه کې د دغو فازونو پرانیستــه او پر فعالیت پیل مهم وبلـل او زیاته یې کړه، چې د صنعت سکټور په پرمختګ سره به په هېواد کې اقتصادي پراختیا رامنځته شي. محترم ملا صاحب د اوسپنې ویلې کولو فابریکو مسوولینو ته ډاډ ورکړ، چې اسـلامي امارت صنعتـي فابریکو ته د دایمي برېښنـا چمتو کولو لپاره هڅې کوي او په همدې موخه د کورنۍ برېښنا د تولید کچې زیاتولو په موخه پر نورو پروژو سربېره له خصوصي سکټور سره د کابل په سروبي ولسـوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه تولیدي برېښنا قرارداد لاسلیک شوی دی.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوسپنې ویلې کولو فابریکو مسوولینو ته دا هم وویل، چې اسلامي امارت په کور دننه د خامو موادو چمتو کولو په موخه د هــرات ولایت د اوســپنې کان څلور بلاکونه د داوطلبــۍ له لارې کورنیو او بهرنیو شرکتونو ته په قــرارداد ورکړي، څو په راتلونکي کې د اوســپنې ویلې کولو فابریکې د خامو موادو له کمښت سره مخ نه شي.

محترم ملا صاحب له صنعت سکټور څخه د ملاتــړ په پار زیاته کړه، چې اســلامي امارت پر هغو اوســپنیزو توکو تعرفه لوړه کــړې ده چې په کور دننه تولیدېږي او د هېوادوالــو اړتیــاوې پوره کــولای شي. نوموړي له ټولو دولتي ادارو او هېوادوالو وغوښتل، چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو پر مهال له کورنیو تولیداتو استفاده وکړي، که څه هم کیفیت یې د بهرنیو تولیداتو په پرتله له لس تر پنځلس سلنې ټیټ وي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو صنعت کارانو او پانګوالو ته بلنه ورکړه، چې د هېواد دننه په داســې مهمو سکټورونو کې پانګونه وکړي او له دې لارې د هېواد پــه ترقۍ او ځــان بســیاینه کې خپل مسوولیت اداء کړي.

د ملت ســټیل اوســپنې ویلــې کولو فابریکې په دوهــم او درېیم فازونو کې ۵۰ میلیون ډالره پانګونه شوې، چې په ورځني ډول د اوسپنې پټلۍ د خطونو، ګول سیخ او ګاډرو د سلګونه ټنه تولید ظرفیت لري او شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته پکې کاري زمینه برابره شوې.



# د څلور میلیارده افغانیو په ارزښت
# **د څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول**

د مالیې، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکتور ترمنځ د شاوخوا څلور میلیارده افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان لمریز کال د وري میاشتې په ۵ مه نېټه د مالیې، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکتور ترمنځ د شاوخوا څلور میلیارده افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید او ساختماني چارو څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول.

دغه پروژې د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، په هرات ولایت کې د دوه سب سټېشنونو جوړول او د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځول، کابل ښار کوټه سنګي ساحه کې د سوداګریز مارکېټ او د هلمند مرکز لښکرګاه کې د سوداګریز مرکز او استوګنې اپارتمانونو جوړول دي. پر دې پروژو شاوخوا څلور میلیارده افغانۍ پانګونه کېږي، چې په عملي کېدو سره به یې د هېواد د ملي عوایدو په کچه کې زیاتوالی راشي او سلګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر شي.


د یادونې وړ ده، چې د پانګونې دغه پروژې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې او اړوندو ادارو په هلو ځلو سره عملي بڼه پیدا کړې ده.



# د ۱٦,٥ میلیاردو افغانیو په ارزښت

# د ۹ پروژو پرانیسته



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمریز کال په حمل میاشت کې په مختلفو برخو کې د شاوخوا ۱٦,٥ میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۹ پروژو پرانیسته وکړه.

د ترانسپورټ په سکټور کې د خواف-هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې دوهمه برخه، چې ۴۷ کیلومتره اوږدوالی لري، تولیز لګښت یې ۳,۸ میلیارد افغانیو ته رسېږي. تاکل شوې چې د دغه پروژې چارې به د شاوخوا دوه کلونو په جریان کې په معیاري ډول بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د خواف- هرات د سیمه‌ییز اتصال پروژه به افغانستان د ایران له مهمو سمندري بندرونو سره وصل کړي او پر دې سربېره به د افغانستان له خاورې په تېرېدو سره د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د سوداګریزې راکړې ورکړې د کچې لوړېدو لپاره هم زمینه برابره کړي.

د صنعت په برخه کې د خصوصي سکټور په پانګونې سره د اوسپنې ویلې کولو فابریکې پرانیسته هم د یادولو وړ ده، چې د پانګونې مجموعي ارزښت یې ۳,٦ میلیاردو افغانیو ته رسېږي، شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته پکې کاري زمینه برابره شوې.

د زېربنا په سکټور کې د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د چارو پرانیسته. د دغې پروژې مجموعي لګښت شاوخوا ٥,۱۱۲ میلیارد افغانیو ته رسېږي. په دغه پروژه کې ۱۴۰۰ هستوګنیز کورونه په ٥٦ بلاکونو کې په نظر کې نیول شوي، چې چارې به یې په ۳ کلونو کې بشپړې شي.

همدارنګه په کابل او هلمند ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو د جوړېدو پروژو ته هم اشاره کولای شو. دغه سوداګریز مارکیټونه د شاوخوا یو میلیارد افغانیو په پانګونې سره جوړېږي.

د برېښنا په سکټور کې د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، په هرات ولایت کې د دوه سب سټېشنونو جوړېدل او د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځېدل دي، چې د شاوخوا ۳ میلیاردو افغانیو په پانګونې سره به یې چارې په نېږدې راتلونکي کې بشپړې شي.

# قرارداد ساخت فاز دوم قطعه چهارم
# خط آهن خواف - هرات
## به امضاء رسید

در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء قرارداد ساخت فاز دوم قطعه چهارم خط آهن خواف – هرات به تاریخ نهم ماه حمل ۱۴۰۳ خورشیدی میان اداره خط آهن افغانستان و شرکت گاما گروپ به امضاء رسید.

فاز دوم قطعه چهارم خط آهن خواف - هرات ۴۷ کیلومتر طول دارد که هزینه مجموعی آن به ۵۳ میلیون دالر می رسد. قرار است که تا حدود دو سال دیگر کار این پروژه به صورت معیاری تکمیل و به بهره برداری سپرده شود.

این آخرین قسمت پروژه راه آهن خواف - هرات است که از رباط پریان آغاز و به میدان هوایی بین المللی هرات و به شهرک صنعتی این ولایت می رسد. با تکمیل این فاز، پروژه اتصال منطقه‌ای خواف - هرات؛ افغانستان به بنادر مهم دریایی ایران وصل و از طریق شبکه راه آهن ترکیه به اروپا خواهد رسید.

علاوه بر این، با عبور از خاک افغانستان زمینه برای افزایش سطح انتقال اموال تجارتی بین آسیای مرکزی و جنوبی را نیز فراهم می کند.

گفتنی است که با اعمار این پروژه امکان تمدید شبکه خط آهن در ولایات فراه، نیمروز، هلمند و قندهار فراهم می شود.





# د نېله باغ هستوګنیزې پروژې

## د بنسټ ډبره کېښودل شوه


د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د وري میاشتې په ۱۹مه نېټه د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د بنسټ ډبره کېښودل شوه. محترم ملا صاحب د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د چارو پیل د هېواد د آبادۍ په برخه کې مهم پرمختګ یاد کړ او ویې ویل، د افغانستان اسلامي امارت د نورو زېربناوو تر څنګ د ودانیزو پروژو د پلي کېدو په برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي، چې د نوي کابل د لومړي فاز دوهمه برخه او یوشمېر نورې پروژې یې د نمونې په ډول یادولی شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد اوسنۍ وضعیت او شرایط د پانګونې لپاره مناسب وبلل او زیاته یې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د صنعت، کرنې، برېښنا او سوداګرۍ سکټورونو ترڅنګ د ودانیزو پروژو په برخه کې هم کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې ده.

محترم ملا صاحب د چین ولسي جمهوریت څخه د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د عملي چارو د پیل له امله مننه وکړه او له دوی څخه یې وغوښتل، چې له افغانستان سره د یو ښه ګاونډي هېواد په توګه د سیمه ییز اتصال غوندې مهمو مسایلو کې هم په مشترکه او همغږې توګه کار وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د چین له حکومت او پانګوالو وغوښتل څو په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې لپاره له شته فرصتونو څخه ګټه واخلي، چې په دې سره به د کابل او بیجینګ ترمنځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې لا پراخې او پیاوړې شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کور او ښار جوړولو وزارت او کابل ښاروالۍ څخه وغوښتل چې په پلازمېنه کابل کې د تعمیراتي چارو ستونزو ته رسېدنه وکړي او اجازه ورکړي چې ودانیز کارونه پیل شي، څو هېوادوالو ته کاري زمینه برابره او زېربنایي صنعت پرمختګ وکړي.

د نېله باغ هستوګنیزه پروژه د چین په بلاعوضه مرسته جوړېږي، چې شاوخوا ۷۱ میلیون ډالره لګښت پرې راځي. په دغه پروژه کې ۱۴۰۰ هستوګنیز کورونه په ۵۶ بلاکونو کې په نظر کې نیول شوي، چې د کور او ښار جوړولو وزارت تر نظارت لاندې به یې د جوړېدو چارې په درېیو کلونو کې بشپړې شي.



# سه پروژه مهم

## به ارزش حدود یک میلیارد افغانی افتتاح شد

معاون اقتصادی ریاست الوزراء محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به تاریخ هشتم ثور ۱۴۰۳ خورشیدی بخش دوم سرک کوتل خیرخانه، قسمت اول سرک چهار راهی شهید الی قصبه و سرک چهار راهی میدان هوایی الی گمرک افتتاح نمود.

محترم ملا صاحب در مراسم افتتاحیه این پروژه ها گفت، شاروالی کابل برای نظم شهری تلاش های زیادی به خرچ میدهند، ما از سعی و تلاش آنان قدردانی می نمایم و از شهروندان می خواهیم که در حفظ و نگهداری پروژه های عام المنفعه با حکومت همکاری کنند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مسوولان شاروالی کابل نیز توصیه نمود که این پروژه ها را به وقت معین و با کیفیت بالا به پایه اکمال برسانند.

بخش دوم سرک کوتل خیرخانه به طول ۲۵۲۰ متر و عرض آن ٦۰متر می باشد، کار این پروژه در مدت ۲۰ ماه با هزینه ۳٦۴ میلیون افغانی تکمیل و به بهره برداری سپرده می شود. پروژه سرک چهار راهی شهید الی قصبه به طول ۱۸۹۰ متر و عرض آن ۴۵ متر می باشد که هزینه مجموعی آن ۱۷۵ میلیون افغانی است و در مدت یک سال به پایه اکمال میرسد. پروژه سرک چهار راهی میدان هوایی الی گمرک به طول ۲۷۹۴متر و عرض آن ٦۰ متر است، که هزینه آن به ۴۰۷ میلیون افغانی میرسد و قرار است در مدت ۲۰ ماه کار آن تکمیل و به بهره برداری سپرده شود.

این پروژه ها دارای آب روها، پیاده روها، گلدان ها، تنویر ایستگاه ها، خط اندازی روی سرک، نصب علائم ترافیکی و سایر قسمت های یک سرک معیاری می باشد که هزینه مالی آن از سوی شاروالی کابل پرداخت می شود.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند

# سه فابریکه مهم

## را در ولایت هرات افتتاح نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در سفر خود به ولایت هرات بتاریخ نهم ثور ۱۴۰۳ خورشیدی فابریکه های دارو سازی ایتوک فارما و افغان میدیسن و فابریکه مشروبات غیر الکولی شمس کولا در ولایت هرات را افتتاح نمودند. در مراسمی که به همین مناسب تدویر گردیده بود، شیخ نور احمد اسلام جار والی هرات، مولوی نصرالله مطیع قومندان قول اردوی ۲۰۷ الفاروق، تجاران ملی، سرمایه گذاران و کارشناسان بخش صحی این ولایت نیز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء آغاز فعالیت فابریکه های یاد شده در رشد صنعت یک گام مهم و اساسی خوانده، افزود، رشد اقتصادی هر کشور از فعالیت های صنعتی سرچشمه می گیرد که خوشبختانه با آمدن امارت اسلامی، افغانستان سفر خود را به سوی صنعتی شدن آغاز کرده است. به گفته محترم ملا صاحب، در حال حاضر افغانستان در بعضی از سکتورها به خودکفایی رسیده و این یک گام مهم به سوی ثبات اقتصادی است.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در جریان افتتاح این فابریکه ها تجار و سرمایه گذاران ملی را تشویق به سرمایه گذاری در کشور نمودند و از آنها خواست محصولات خود را طبق معیارهای موجود به بازار عرضه و از تولید بی کیفیت خودداری نماید، زیرا امارت اسلامی به کیفیت و معیار اولویت میدهد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء با اشاره به حمایت از سکتور خصوصی گفت، امارت اسلامی تمامی ادارات امارتی را مؤظف به اولویت دادن به محصولات داخلی در هنگام خرید کرده است و همچنان بالای آنعده تولیدات تعرفه گمرکی را افزایش داده که در داخل کشور تولید می شوند.

محترم ملا صاحب به فعالیت فابریکه های تولیدی ایتوک فارما و افغان میدیسن در عرضه داروهای با کیفیت به شهروندان اشاره نموده افزود با این کار بیشتر مشکلات مردم هرات از ناحیه دارو حل خواهد شد.

در فابریکه دارو سازی ایتوک فارما ۱۰ میلیون دالر سرمایه گذاری شده که در ابتداء ۵۰ قلم از داروهای مختلف را تولید خواهد کرد. در فابریکه داروسازی افغان میدیسن ۱۶ میلیون دالر سرمایه گذاری شده که ده ها قلم داروی مختلف النوع را تولید می کند. در فابریکه مشروبات غیر الکولی شمس کولا همچنان میلیون ها دالر سرمایه گذاری شده و تولیدات متنوع دارد. قابل یادآوری است که در این فابریکه ها هزاران نفر به صورت مستقیم و غیر مستقیم مشغول به کار شده اند.








## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د پاشدان بند

### د پاتې چارو د پیل پرانیسته وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وکړه. په همدې موخه جوړ شوو مراسمو کې د اوبو او انرژۍ وزیر ملا عبداللطیف منصور، د هرات والي شیخ نور احمد اسلام‌جار، د دغه ولایت علماء کرامو، ملي سوداګرو، پانګوالو او یوشمېر امارتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تېرو دوو لسیزو پر مهال د هېواد اشغال، جګړې، سیاسي او اقتصادي بې ثباتي او د اقلیمي بدلون له امله اوښتي زیانونه هغه لاملونه یاد کړل، چې له امله یې افغانستان له ډېرو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د خودکفایی، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو تر څنګ د طبیعي سرچینو د مدیریت لپاره قوي هوډ او د عمل نیت لري، چې په خبره یې، په دغه برخه کې یې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې ښه زمینه برابره کړې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د هېواد په کچه د ټولو هغو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه یې نیمګړي پاتې وو. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د یادو بندونو د پاتې چارو بشپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې یې د ډېرو بندونو عملي چارې پیل شوې دي. د دغو بندونو له جملې یې یو هم د پاشدان بند دی، چې دا دي عملاً کار پیل شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د پاشدان بند پروژه د هرات ولایت لپاره مهمه او حیاتي وبلله او د هرات ولسونو ته یې ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په ټول توان د یادې پروژې بشپړولو ته ژمن دی او هڅه کوي چې په وخت او ښه کیفیت سره یې کارونه تکمیل کړي. محترم ملا صاحب د هېواد د آزادۍ لپاره د هرات ولسونو د قربانیو قدردانی وکړ او وویل، چې اسلامي امارت به ټولې هغه پروژې پیل کړي، چې د دوی اقتصادي ستونزې پرې حل کېدای شي.

د پاشدان بند پروژې په بشپړېدو سره به زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي، شاوخوا ۵۴ میلیونه مترمکعب اوبه به ذخیره، ۱۳ زره هکټاره ځمکه به خړوبه او دوه مېګاواټه برېښنا به تولید کړي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د هرات-غور سړک

## د جوړولو چارو پرانیسته وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پیل پرانیسته وکړه. په دغو مراسمو کې د هرات والي شیخ نور احمد اسلام‌جار، د غور والي مولوي احمدشاه دین دوست، د ۲۰۷ الفاروق قول اردو قومندان مولوي نصرالله مطیع د غور او هرات ملکي او نظامي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د ترانسپورټ سکټور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو، یاد سکټور په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی، چې د پراختیا او اساسي جوړونې په موخه یې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره پرله‌پسې مجلسونه دوام لري.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت په راتګ سره عملاً د لویو لارو د بیارغونې کارونه پیل شوي چې له جملې یې دا دي د هرات – غور سړک د عملي چارو پرانیسته کوو. دغه سړک د افغانستان له مهمو ملي او لویو پروژو څخه دی، چې د ځمکني ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره نښلوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د دغه ترانسپورټي دهلېز په مسیر کې د مالګې او مرمر ډېرو کانونه هم شته چې بشپړېدل به یې د سوداګرۍ د پراختیا او سیمه‌ییز ترانزیټ په برخه کې مهم رول ولوبوي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غور ولسوالیو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت شته امکاناتو ته په کتو هڅه کوي، چې په دغه ولایت کې نورې پروژې هم پرانیزي.



معاون اقتصادی ریاست الوزراء

# ۸ پروژه مهم را افتتاح نمود

## سکتور ترانسپورت



### پروژه‌ها

- سرک هرات – غور؛
- بخش دوم سرک کوتل خیرخانه شهر کابل؛
- سرک از چهارراهی شهید الی قصبه شهر کابل؛
- و سرک میدان هوایی کابل الی گمرک.

### هزینه مجموعی

- ۳۳ میلیارد و ۳٤٦ میلیون افغانی

### تمویل کننده

- امارت اسلامی افغانستان

## سکتور صنعت




### پروژه‌ها

- فابریکه دارو سازی ایتوک فارما در هرات؛
- فابریکه دارو سازی افغان میدیسن در هرات؛
- و فابریکه تولیدی مشروبات غیر الکولی شمس کولا در هرات.

### سرمایه گذاری

- ۲ میلیارد و ٤٧٠ میلیون افغانی

### سرمایه گذار

- سکتور خصوصی

## مدیریت آب



### پروژه

- بند پاشدان

### هزینه مجموعی

- ۸ میلیارد و ٤٢٤ میلیون افغانی

### تمویل کننده

- امارت اسلامی افغانستان



# اعلامیۀ معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا در پیوند به گزارش اخیر بانک جهانی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان!

در ارتباط به وضعیت اقتصادی افغانستان گزارشی در ۱۸ام اپریل ۲۰۲۴ میلادی از سوی بانک جهانی منتشر گردیده است. در این گزارش به وضعیت اقتصادی افغانستان اشاره شده است.

در این گزارش آمده که وضعیت اقتصادی افغانستان از دو سال گذشته بدینسو با مشکلات مواجه بوده است. سطح تولید ناخالص داخلی و انفلاسیون کاهش یافته، عرضه پول افغانی مورد نیاز به بازار کم شده و در تجارت نیز کسر وجود دارد.

همچنان در این گزارش گفته شده که ارزش پول افغانی در برابر اسعار خارجی افزایش یافته، کشت مواد مخدر در کشور ۹۰ درصد کاهش یافته و عواید ملی ۹ درصد بیشتر از هدف تعیین شدۀ برای ۲۰۲۳م جمع آوری شده است.

معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا از بخش های مثبت و مبتنی بر واقعیت های این گزارش را ستایش می نماید. ولی بخش های این گزارش که دور از واقعیت های عینی می باشد، رد می نماید، زیرا پس از آمدن ا.ا تولید ناخالص داخلی افزایش یافته، دلیل اصلی پایین بودن قیمت مواد خوراکی و غیر خوراکی افزایش در تولیدات داخلی این مواد است، بر اساس سیاست های پولی معقول افغانی بر اساس ارزیابی و تقاضا مارکیت به بازار عرضه شده است.

در کاهشی کسر تجارت پیشرفت قابل ملاحظه به وجود آمده، به طور مثال گفته میتوانیم که در ۱۴۰۰ خورشیدی ارزش صادرات در حدود ۸۵۰ میلیون دالر بود، اما در ۱۴۰۲ خورشیدی سطح صادرات به ۲ میلیارد دالر رسید و میزان واردات نیز نسبت به گذشته کاهش یافته که دلیل اصلی آن افزایش تولید مواد خوراکی و غیر خوراکی در داخل کشور است.

علاوه بر این، ا.ا در سکتور معادن، زیربنا، صنعت، زراعت و سایر بخش ها فرصت های کاری برای صدها هزار نفر را فراهم کرده، که نمونه بارز آن افتتاح ۹ پروژۀ زیربنایی به ارزش ۱٦.۵ میلیارد افغانی در ماه حمل ۱۴۰۳ خورشیدی می باشد.

در این گزارش آمده، که صدها هزار دهاقین به دلیل ممنوعیت مواد مخدر از سوی ا.ا درآمد خود را از دست داده اند. امارت اسلامی می پذیرد که کشت مواد مخدر را در سراسر کشور ممنوع کرده و به تلاش های خود برای کشت بدیل به دهاقین ادامه داده و همچنان از جامعه جهانی می خواهد که مسئولیت خود را در این زمینه اداء نماید.

ا.ا.ا بر این باور است که اگر جامعه جهانی به تعامل مثبت رو آورد، تحریم ها را برداشته و دارایی های مسدود شدۀ افغانستان را آزاد کند و ضمن تمویل پروژه های انکشافی در بخش های گونا گون همکاری کنند، در نتیجه فرصت های شغلی جدید ایجاد شده و روی وضعیت اقتصادی کشور اثر مثبت خواهد گذاشت.



# کنفرانسونه، ناستې او سفرونه

### د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال

# ارزګان ولايت ته سفر وکړ


د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د وري مياشتې په ۲۷مه نېټه په ارزګان ولايت کې د وروستيو سېلابونو له امله د زيانمنو شويو هېوادوالو سره د مرستې په موخه دغه ولايت ته سفر وکړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ارزګان ته د خپل سفر پر مهال د دغه ولايت له مسوولينو، مجاهدينو او اوسېدونکو سره وکتل او هغوی ته يې د وروستيو سېلابونو له امله د رسېدلو زيانونو په برخه کې د لازمې همکارۍ ډاډ ورکړ.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه ولايت مسوولينو ته د کارونو د ښه ترسراوي په اړه لازمې سپارښتنې وکړې او له دوی يې وغوښتل چې په ډېر صداقت او رښتينولۍ سره د خپلو زيانمنو هېوادوالو خدمت وکړي. محترم ملا صاحب وويل: «دا هغه خلک دي چې د اسلامي نظام د راتګ لپاره يې هر ډول قرباني ورکړې دي او ډېر تکليفونه يې ګاللي دي، اوس يې حق دی چې اسلامي امارت د ارام ژوند زمينه ورته برابره کړي.»

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، که د هېواد په هر ګوټ کې هېوادوال په مشکل کې وي، د اسلامي امارت مسوولين مکلف دي، چې د دوی حال واخلي او ستونزو ته يې پر وخت رسېدنه وکړي.

ورپسې د ياد ولايت اوسېدونکو د اسلامي امارت د ملکي او نظامي مسوولينو له چلند څخه خوښي څرګنده کړه او ويې ويل، د اسلامي امارت مسوولينو يې تل د ستونزو پرمهال لاسنيوی کړی دی. دغه راز دوی زياته کړه، خوشحاله دي چې پر ټول افغانستان بشپړ اسلامي نظام حاکم شوی او نور د نفرت، قومي تعصب او نفاق لمن له دغه هېواده ټوله شوې ده.



«دا هغه خلک دي چې د اسلامي نظام د راتګ لپاره يې هر ډول قرباني ورکړې دي او ډېر تکليفونه يې ګاللي دي، اوس يې حق دی چې اسلامي امارت د ارام ژوند زمينه ورته برابره کړي.»



## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# له کجکي بند څخه ليدنه وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د وري مياشتې په ۲۷ مه نېټه هلمند ولايت ته د خپل سفر پرمهال له کجکي بند څخه ليدنه وکړه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کجکي بند پروژې د مسوولينو د ترسره شوو چارو ستاينه وکړه او هغوی ته يې د کارونو د لا ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د کجکي بند پروژه ملي او حياتي وبلله او په دې برخه کې د رامنځته شويو نوښتونو له امله يې د مسوولينو د هڅو قدرداني وکړ.

محترم ملا صاحب وويل چې وچکالۍ او په بندونو کې د اوبو د کمښت له امله د برېښنا د توليد کچه راټيټه شوې وه، خو سږ کال په هېواد کې د پرېمانه اورښتونو له امله د اوبو کچه لوړه شوې او زياتره بندونه له اوبو ډک شوي دي. له دې سره به سږ کال د کرنې برخه وده وکړي او هم به په هېواد کې دننه د برېښنا د توليد کچه لوړه شي.

د يادونې وړ ده، چې د کجکي بند د هېواد په کچه يو له لويو بندونو څخه دی، چې د هلمند ولايت په کجکي ولسوالۍ کې د هلمند پر سيند د موسمي سېلابونو د کنټرول، کرنيزو ځمکو خړوبولو او برېښنا د توليد په موخه جوړ شوی دی.

# د لته بند لارې

## پاتې چارې بشپړېږي

د ریاســت الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۴ مه نېټه د کابل - سروبي «لته بند» سړک څخه لیدنه وکړه.

په دې ســفر کې له محترم ملا صاحب سره د ټولګټــو وزیر محــترم ملا محمد عیسی ثاني، د کابل والي ملا امین الله عبید، د ننګرهــار والي ملا محمد نعیم اخوند (حاجي ګل محمد) او یو شــمېر نورو مسوولینو هم ملتیا کوله.

د ټولګټو وزارت په پلان کې لري چې د لته بند لارې پاتــې چارې په راتلونکي کې پیل او په ټاکلې مــوده یې پای ته ورسوي.





### افغانستان او قزاقستان

# د اوسپنې پټلۍ

## د نوې شبکې پر غځولو خبرې وکړې

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال محترم سریک ژومانګارین په مشرۍ له راغلي پلاوي سره د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د غويي میاشتې په پنځمه نېټه د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.

په دې کتنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو، د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه سویلي آسیا ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو او ترانزیټي مسایلو په اړه خبرې وشوې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان او قزاقستان اړیکو ته په اشارې سره وویل، واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د دې فرصت رامنځته شو، چې د دواړو لورو ترمنځ سیاسي او اقتصادي اړیکې لا ټینګې او پیاوړې شي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې زیاتېدو په موخه په هرات ولایت کې د قزاقستان د سوداګرۍ خونې پرانیستل، افغان – ترانس پروژه کې د پانګونې لپاره د دغه هېواد لېوالتیا او همدارنګه له هغو تحریم شوو ګروپونو څخه د اسلامي امارت ایستل چې دغه هېواد په خپله خاوره کې پرې بندیز لګولی و؛ مهم او اساسي ګامونه یاد کړل.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، افغانستان تازه له اشغال او جګړو راوتلی، د پرمختګ پر لور یې لومړني ګامونه پورته او د اقتصاد او سوداګرۍ لپاره یې پراخ بنسټونه رامنځته کړي؛ خو سره له دې هم د کرنې، روغتیا، زېربنا او یوشمېر نورو برخو کې ځینې ستونزې شته، چې په دغو برخو کې د قزاقستان د همکاریو او ګډ کار غوښتنه کوي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو د سوداګرو

بانکي ســـتونزو ته د رسېدنې په موخه د هوکړه لیک پر لاسلیک، د افغان – قزاق ګډو کمپنیو پر جوړولو او د افغان ســـوداګرو لپاره د وېزو د ورکړې پـــه برخه کې د اســـانتیاوو پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.

ورپســـې د قزاقســـتان لومړي وزیر مرســـتیال محترم سریک ژومانګارین واک ته د اســـلامي امارت په رســـېدو سره په افغانستان کې د شوو پرمختګونو ســـتاینه وکړه او ویـــې ویل، دوی د باثباته او پرمختللي افغانستان لپاره له اسلامي امارت سره یوځای کار کوي. نوموړي د افغان – ټرانس پروژه کې له شوو پرمختګونو هرکلی وکړ او زیاتـــه یې کړه، که چېرې د ترکمنســـتان او افغانســـتان له لارې له قزاقستان څخه سویلي آسیا ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځول شي دا به د نـــورو پروژو په پرتله لنډه او د ښـــکېلو هېوادونـــو لپـــاره اقتصادي تمامـــه شي او وبه کـــولای شي، چې د مرکزي آســـیا هېوادونه د افغانستان له لارې جنوبي آسیا او افغانستان به د ترکمنســـتان او قزاقستان له لارې له چین او اروپا سره ونښـــلوي. نوموړي وویل، د قزاقستان حکومت په نظر کې لري چې له افغانستان سره د ســـوداګرۍ زیاتولو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنـــځ د صنعت او ســـوداګرۍ ګډه خونه او د تجـــارت او کار ګډ ګـــروپ رامنځتـــه کړي. د ښـــاغلي ژومانګارین په خبره، قزاقستان چمتو دی چې د افغانســـتان په کانونو کې د قزاقي پانګوالو پر پانګونې سربېره له افغانستان سره د بریښـــنایي حکومتولۍ، صنعت، لوړو زده کړو، پوهنې، روغتیـــا او بانکي ســـکټورونو کې هم همکاري وکړي.



„

**افغانستان تازه له اشغال او جګـړو راوتلـی، د پرمختګ پر لور یې لومړني ګامونه پورته او د اقتصاد او سوداګرۍ لپاره یې پراخ بنســتونه رامنځتــه کړي؛ خـو سره لـه دې هـم د کرنې، روغتیا، زېربنا او یو شمېر نورو برخو کې ځینې ستونزې شته، چې په دغو برخو کـې د قزاقســتان د همکاریـو او ګـډ کار غوښتنه کوي.**

“



## معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء

# با سفیر ایران در کابل دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء ٦ ثور ۱۴۰۳ خورشیدی در دفتر کاری خویش با حسن کاظمی قمی نماینده ویژه رئیس جمهور ایران در امور افغانستان و سفیر ایران در کابل دیدار نمود.

در این دیدار ملا عبداللطیف منصور وزیر انرژی و آب، مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، ملا خیرالله خیرخواه وزیر اطلاعات و فرهنگ و مولوی فضل محمد حقانی سفیر افغانستان در تهران نیز حضور داشتند. در این ملاقات روی تقویت روابط سیاسی، اقتصادی، تجارتی و ترانزیتی و همکاری های دوجانبه در زمینه های گونا گون بحث صورت گرفت.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء روابط میان افغانستان و ایران را بهتر و مثبت توصیف نموده، تاکید کرد که هر دو کشور باید برای توسعه روابط با یکدیگر همکاری نمایند. محترم ملا صاحب گفت، امسال به فضل الهی سطح بارندگی بلند بوده که در نتیجه آن پس از چندین سال خشکسالی، آب دریایی هلمند به ولایت نیمروز و به ولایت سیستان ایران رسیده است که به گفته محترم ملا صاحب، این کمک خواهد کرد که مشکلات بیشتر مردم هر دو کشور را حل نمایند. همچنان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند خواستار ایجاد تسهیلات بیشتر در ترانزیت تولیدات و محصولات افغانی به کشورهای اروپایی از طریق ایران شد و این امر را گامی اساسی برای افزایش سطح ترانزیت و تجارت بین دو کشور یاد نمود. محترم ملا صاحب گفت، به تعقیب سفر وی به ایران، کمیته های تخنیکی هر دو جانب با هم همکاری می کنند و در زمینه های مختلف نتایج خوبی به دست آورده اند.

سفیر ایران در کابل از رسیدن آب دریای هلمند به سیستان ایران ابراز خرسندی نموده، افزود که ایران آمادهٔ همکاری با افغانستان برای حل مشکلات بانکی تجاران، مبارزه مشترک با حفاظت از محیط زیست، عصری نمودن سکتور زراعت و همچنان در افزایش سطح تجارت و ترانزیت افغانستان از طریق ایران همکاری می کنند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مشکلات پناهجویان افغان مقیم ایران اشاره نمود و از طرف ایرانی خواست که اخراج اجباری مهاجران افغان از این کشور را متوقف نماید و هماهنگی خوبی بین هر دو طرف در این زمینه نیز به میان آید.




# د افغان – قزاق سوداگرۍ فورم

## پرانیستل شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال محترم سریک ژومانگارین له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په شپږمه نېټه په کابل کې د افغان – قزاق سوداګرۍ فورم پرانیستل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او صنعت د پرمختګ په برخه کې د دغه فورم جوړېدل مهم وبلل، چې په خبره یې، څه وخت مخکې په قزاقستان کې هم ورته فورم جوړ شو، چې په پایله کې یې د دواړو لورو ترمنځ د میلیونونو ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک شول.

د محترم ملا صاحب په خبره، په دغه فورم کې د افغانستان او قزاقستان تولیدات او محصولات نندارې ته وړاندې شوي، چې په پایله کې به یې د دواړو هېوادونو صنعت کاران او سوداګر وکولای شي په مختلفو برخو کې تړونونه لاسلیک کړي او یو د بل له تجربو ګټه واخلي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په افغانستان کې د پانګونې رامنځته شوو فرصتونو ته په اشارې سره وویل، چې کورني، بهرني او په ځانګړې ډول قزاقي پانګوال کولای شي دلته په مختلفو سکټورونو کې پانګونه وکړي، چې اسلامي امارت ورته ټولې اسانتیاوې برابرې کړې او بشپړ ملاتړ یې کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ له راغلي پلاوي سره یې د اوسپنې پټلۍ پر هغه پروژه هم بحث کړی، چې د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته غځول کېږي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت ته دغه پروژه اهمیت لري او د تطبیق په برخه کې یې له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکوي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ټولو هېوادوالو وغوښتل چې په دغه فورم کې نندارې ته د وړاندې شوو افغاني توکو تر څنګ قزاقي توکي هم واخلي.









# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در سی ومین **نمایشگاه بهاری محصولات زراعتی** اشتراک نمودند

این نمایشگاه که بتاریخ ۱۲ ثور ۱۴۰۳ خورشیدی در فارم تحقیقاتی بادام باغ کابل برگزار شده بود، شماری از مسؤلین امارتی، نمایندگان سکتور خصوصی و دهاقین حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسمی که به همین مناسبت تدویر یافته بود، به اهمیت نمایشگاه ها اشاره کرده گفت، حکومت ها در تلاش هستند که به منظور معرفی و بازاریابی محصولات خود نمایشگاه ها را در داخل و خارج از کشور برگزار نمایند که امارت اسلامی نیز این سلسله را آغاز نموده است. به گفته محترم ملا صاحب، تجارت یک کشور می تواند از طریق نمایشگاه ها رشد نماید و همچنان زمینه سرمایه گذاری در این زمینه فراهم می شود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود که افغانستان زمین های زراعتی وسیع و آب فراوان برای آبیاری دارد، اما همچنان سطح تولید محصولات زراعتی پایین است که به گفته وی، معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء به همکاری کارشناسان افغان عملاً کار را روی استراتژی انکشاف ملی کشور آغاز کرده که پس از منظوری عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تطبیق و به اساس آن ما می توانیم زراعت افغانستان را مکانیزه و کشور را به سمت صنعتی شدن سوق دهیم.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء حین سخنان خویش گفت، امارت اسلامی علاوه بر صنعت با اولویت دادن به بخش زراعت به مدیریت آب نیز توجه داشته و در راستای مدیریت آب و استفاده از حق مشروع خود پروژه های بزرگ آبی را در کشور آغاز نموده است.

محترم ملا صاحب به همه هموطنان به ویژه دهاقین اطمینان داد که امارت اسلامی برای تقویت سکتور زراعت کشور روی طرح های مهم کار می نماید که با عملی شدن آن اقتصاد کشور رشد و سطح زندگی مردم بهتر خواهند شد.

سی‌ومین نمایشگاه محصولات زراعتی جهت بازاریابی محصولات زراعتی و صنعتی، تقویت سکتور زراعت و حمایت از تولیدات داخلی برگزار شد و در ۲۶۳ غرفه اقلام مختلف به نمایش گذاشته شده بود.





# مقالې

د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# ۱۴۰۳ لمریز کال کې
# پرانیستل شویو پروژو ته کتنه

**لیکوال:** فضل ولي شیراني



**په دې لیکنه کې موږ د ۱۴۰۳ لمریز کال په لومړیو دوو میاشـــتو کې د هغو پروژو په اړه خبرې کوو چې پرانیستل شوې او عملي چارې یې پیل شوې دي.**



# سریزه



په روان لمریز کال کې تر اوسه پورې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د شاوخوا ۶۰ میلیاردو افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې پرانیستل شوې. دا پروژې د اوبو مدیریت، برېښنا، زیربنا او صنعت په سکټورونو کې دي. دا هغه سکټورونه دي چې په پرمختګ او رغولو سره به یې د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ شي. موږ او تاسو ته معلومه ده چې افغانستان پرېمانه اوبه لري او نن سبا اوبه له تېلو هم ارزښتناکه او مهمه ماده ده، ځکه د تېلو بدیل پیدا کېدای شي، خو د اوبو بدیل پیدا کول ستونزمن څه چې ناممکن دي. دغه راز د برېښنا کمی د افغانستان لویه او دوامداره ستونزه ده، چې تر دې دمه یې هېڅ حکومت پر حل نه دی بریالی شوی، سره له دې چې افغانستان د بشري ځواک، طبیعي زېرمو او سرچینو، کانونو او ځنګلونو له اړخه یو غني هېواد دی او له دې هر څه نه د صنعت په برخه کې پوره ګټه پورته کېدای شي؛ خو د تېرو څه باندې څلورو لسیزو جګړو په بهیر کې د نورو زېربناوو په څېر دا برخه هم اغېزمنه شوې ده او زیاتره زېربناوې ورانې ویجاړې شوې دي.

خو کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد له هغې را په دې خوا د اوبو د مدیریت، برېښنا د تولید، سړکونو او لویو لارو جوړولو او د صنعت د ودې په برخه کې کوټلي ګامونه پورته شوي دي او په دې برخو کې یو زیات شمېر پروژې پلان، ځینې خو یې پلې او یو شمېر نورې یې د عملي کېدو په حال کې دي. په دې لیکنه کې موږ د ۱۴۰۳ لمریز کال په لومړیو دوو میاشتو کې د هغو پروژو په اړه خبرې کوو چې پرانیستل شوې او عملي چارې یې پیل شوې دي.




## د اوبو مدیریت

افغانستان د روانو اوبو پرېمانه سرچینې او زېرمــې لري چې په هېــواد کې دننه په بېلابېلو برخو کې د ګټې اخیستنې له پاره باید په ښه ډول مدیریت شي، ځکه اوبه نه یوازې د ژوندانه له اساسي اړتیاوو څخه ګڼل کېږي، بلکــې د هېوادونو ترمنځ پر اړیکو او بهرنیو سیاســتونو هم ښــکاره اغېزې لري.انسانان په خپل بشري تاریخ کې تل د اوبو د پیدا کولو په لټه کې وو او هڅــه یې کړې چې د اوبو زېرمې په واک کې ولري. په هغو ځایونو او ســیمو کې ژونــد وکړي چــې ترڅنګ یــې چینې، ســیندونه او ســمندرونه وي. اوس چې افغانســتان له دې طبیعي نعمت څخه برخمــن دی، نو پــه کار ده چې له دې سرچینې څخه پوره ګټه پورته او په ســم ډول مدیریت شي. اسلامي امارت همدې ټکي ته په کتو هڅــه کوي چې د هېواد اوبه مهار او مدیریت کړي. د اوبو د ښــه مدیریــت په برخه کې د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخونــد د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د پاشــدان بند د پاتــې چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، اسلامي امارت د هېواد د خودکفایــی، ټولنیــز او اقتصــادي پرمختــګ لپاره د نــورو برخو تر څنګ د طبیعي سرچینو په تېره بیا د اوبو مدیریت لپــاره قوي هوډ او د عمــل نیت لري. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل؛ اســلامي امارت د هېــواد په کچه د هغو بندونو په اړه څېړنې پیل کړې چې چارې یې نیمګړې پاتې دي او د پاشدان بند د پاتې چارو پیل یې یوه ښــه بېلګه ده. د پاشــدان بند پروژې په بشپړېدو سره به زرګونــو هېوادوالو ته په مســتقیم او غیر مســتقیم ډول د کار زمینــه برابره شي، شــاوخوا ۵۴ مېلیونه مترمکعــب اوبه به ذخیره، ۱۳ زره هکتاره ځمکه به خړوبه او دوه مېګاواټه برېښــنا به تولید کړي. په افغانســتان کې د بندونو جوړولو اړتیا د لاندې څــو عواملو له کبله ډېره زیاته ده. زموږ هېواد د کرنې له پاره پراخې ځمکې لري، خو له دې ټولو څخه یوازې شاوخوا ۵،۳۲۴ مېلیونه هکتاره ځمکه کرل کېږي او پاتې هغه سپینه پرته ده یانې کښت نه پکې کېــږي. بله دا چې مــوږ د بندونو جوړولو ته اړتیا لرو هغه داده چې د بندونو په جوړولو او د اوبو په مهارولو سره به موږ تر یــوه بریده پــر دې وتوانېــږو چې د طبیعي پېښــو مخه ونیســو. هر کال د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې سېلابونه راځي چې له امله یې نه یوازې خلکو ته مالي او ځاني زیان اوړي، بلکې له ځان سره ډېــری کروندې هم ویجــاړوي، د بندونو په جوړولو سره به د طبیعي آفتونو مخه هم نیول شوې وي. اسلامي امارت همــدې ټکو ته په کتــو وپتېیله چې په هېواد کې د اوبو د مدیریت په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي.



# برېښنا سکټور



افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د برېښنا د تولید له پاره پراخې سرچینې لري. اوسمهال د برېښنا د تولید یوه مهمه سرچینه لمر دی. افغانستان له لمر څخه شاوخوا ۲۲۳ زره مېګاواټه برېښنا تولیدولی شي. خو په افغانستان کې له دغې سرچینې په کمه پیمانه ګټه اخیستل شوې ده. په دې برخه کې داسې ګامونه نه دي پورته شوي چې وکولای شي، افغانستان د برېښنا له پلوه ځان بسیاینې ته ورسوي. خو اسلامي امارت د برېښنا اهمیت ته په کتو په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي او هڅه کوي چې په هېواد کې د برېښنا ستونزه هواره کړي. د روان لمریز کال د حمل میاشتې په پنځمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د مالیې، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د شاوخوا څلور مېلیارده افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید او د ساختماني چارو د څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول. دغه پروژې د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، او هرات ولایت کې د دوه سب سټېشنونو جوړول او د ۲۲۰کیلو ولټ برېښنا مزي غځول دي. انرژي په ځانګړي ډول برېښنا د اقتصادي ودې له پاره مهم عنصر بلل کېږي. افغانستان د برېښنا د تولید له پاره پرېمانه اوبه، تېل او ګاز، د ډېرو سکاره او ترڅنګ يې بل الهي نعمت لمر هم لري چې کولای شي برېښنايي انرژي تولید کړي. برېښنا د یوه هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې ډېر مهم رول لري. دغه راز برېښنا نن سبا د بل هر مصرفي توکي په پرتله ډېر اهمیت لري. دا ځکه چې د کورونو له رڼا کولو نیولې بیا د صنعتي فابریکو تر تولید، اطلاعاتو، سوداګریزو فعالیتونو، امنیتي دندو او نورو اقتصادي او اداري فعالیتونو پورې هر څه د برېښنايي انرژۍ پر مټ مخ ته ځي. نو ځکه خو اسلامي امارت په کور دننه او ددې برخې له طبیعي سرچینو څخه د برېښنا تولید ته لومړیتوب ورکړی او غواړي افغانستان په دې برخه کې پر ځان بسیا کړي.

# ترانسپورټ سکټور

ترانسپورټ سکټور یو له هغو مهمو سکټورونو څخه دی چې په هر عصر کې یې د ملتونو د اقتصادي ودې او په بېلا بېلو ټولنو کې د خلکو د ټولنیزې هوساینې په برخه کې رغنده رول لوبولی دی. نن سبا د ترانسپورټ بېلا بېل سیستمونه شته لکه ځمکنی ترانسپورټ، د اوسپنې پټلۍ، بحري او هوایي ترانسپورټ. دا ډول ترانسپورټ د وګړو او بېلا بېلو سوداګریزو توکو د لېږد له پاره کارول کیږي. ددې له پاره چې د ترانسپورټ سکټور وده وکړي او هېواد پرمختګ وکړي، نو په کار ده چې لویې لارې او سړکونه په معیاري ډول ورغول شي. د دې برخې له رغونې او جوړونې پرته د یوه هېواد پرمختګ او ترقي امکان نه لري. ددې سکټور د پرمختګ له پاره اسلامي امارت د لویو لارو او په ښارونو کې دننه سړکونو د جوړولو چارې پیل کړې دي. په دې لړ کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات – غور سړک د جوړولو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د ترانسپورټ سکټور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو، یاد سکټور په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی، چې د پراختیا او اساسي جوړونې په موخه یې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره پرله پسې مجلسونه دوام لري. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت په راتګ سره عملاً د لویو لارو د بیارغونې کارونه پیل شوي چې له جملې یې د هرات – غور سړک د عملي چارو پرانیسته وشوه. دغه سړک د افغانستان له مهمو ملي او لویو پروژو څخه دی، چې د ځمکني ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره نښلوي. دغه راز د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه په کابل ښار کې د خیرخانې کوتل سړک دوهمه برخه، له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک لومړۍ برخه او د هوایي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې د غځېدلي سړک جوړولو پروژې پرانیستل شوې. دغه پروژې ویالې، پلې لارې، ګلدانونه، برېښنا، تمځایونه، د ترافیکي نښو نصبول او د یوه معیاري سړک نورې برخې هم لري، چې مالي لګښت یې د کابل ښاروالۍ له لوري ورکول کېږي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت ته د ترانسپورټ سکټور زیات اهمیت لري او همدا لامل دی چې لویې لارې او په ښارونو کې د ترانسپورټي ستونزو راکمولو په موخه سړکونه رغوي. په نننۍ اقتصاد کې ترانسپورټ سکټور ته ځانګړې پاملرنه کیږي او هڅه داده چې دا سکټور پرمختګ وکړي. تر هغې چې د ترانسپورټ سکټور په معیار برابر نه شي، تر هغې سوداګریزې او نورې اقتصادي چارې سمې پرمخ نه ځي. په کار داده چې ددې سکټور له پاره اړینې برخې ورغول شي. اسلامي امارت په همدې موخه د لویو لارو او سړکونو رغولو ته مخه کړې ده چې ښې بېلګې یې د هرات- غور سړک او د کابل ښار سړکونو جوړول دي. په دې سره به په ښارونو کې ترانسپورټي ستونزې هوارې شي او د لویو لارو په رغولو سره به زموږ سوداګري پراختیا پیدا او د ټرانزیټ له پاره به زمینه برابره شي. ددې چارو په ترسره کېدو سره به د هېواد اقتصاد د پرمختګ په لور چټک ګامونه پورته کړي.




# صنعت سکټور

افغانســـتان د صنعت په برخه کې اوږده مخینه لـــري. پـــه لرغـــوني باختر کې صنعتکارانو له سرو او سپینو زرو، مسو او اوســـپنې ښکلي رنګارنګ ښایسته ګاڼې جوړولـــې. دا راز له سرو او ســـپینو زرو د کمربندونو، د آســـونو نعلونـــو، د غالۍ اوبدلو، وړینو جامو، ټغر، پوستینچو، قره قل، میسي او خاورین لوښـــو جوړول، دا هغه بېلابېل صنعتونـــه دي چې افغانانو لوی لاس پکې درلود او دې ټولو د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهمه ونډه لرله، خو په دغو ټولو تاریخي پړاونو کې د افغانســـتان اقتصاد تر ډېـــره د ناامنیو، کورنیو جګـــړو او بهرنیو اســـتعمارګرو د یرغلونو لـــه کبله اغېزمن شـــوی دی. د اســـلامي امارت په راتـــګ سره د صنعت اهمیت ته په کتو ددې سکټور د پیاوړتیا او پرمختګ له پاره ګامونه پورته شوي دي او تر یوه بریده په دې برخه کې پرمختګ شـــوی دی. دا مهال د هېواد په ســـترو ښارونو کې تولیدي فابریکې فعالې شوې او ځینې یې نوې جوړې شوې او تولیدات کـــوي. د ۱۴۰۳ لمریـــز کال د حمـــل میاشـــتې په پنځمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند لـــه لوري د ملت ســـټیل اوســـپنې ویلې کولو فابریکـــې دوهم او دریېم فازونه چې ۵۰ میلیونه ډالر پانګونه پرې شوې، پرانیستل شـــول. د ریاست الوزراء اقتصادي مرســـتیال وویل چې د صنعت ســـکټور په پرمختـــګ سره به په هېـــواد کې اقتصـــادي پراختیا رامنځته شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له صنعت کارانو او پانګوالو وغوښتل، چې په داسې مهمو سکټورونو کې دې پانګونه وکړي او له دې لارې د هېواد په ترقۍ او ځان بسیاینه کې دې خپل مسوولیت اداء کړي. دغه راز په هرات ولایت کې د روان لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرســـتیال له لوري د درملو جوړولو دوې فابریکې او د غیـــر الکـــولي مشروباتـــو یـــوه فابریکه پرانیســـتل شـــوې. د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې د هر هېواد اقتصـــادي وده لـــه صنعتـــي فعالیتونو سرچینـــه اخلي، چـــې لـــه نېکه‌مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره افغانستان د صنعتي کېدو په لور خپل مزل پیل کړی دی. دا د صنعت په برخه کې یو ستر ګام دی. په دې سره به هېواد د صنعتي کېدو په لور ولاړ شي. تر هغې چې د یوه هېواد صنعت پرمختګ ونه کړي، هېواد د ترقۍ په لور نـــه شي تللی. بلـــه دا چې ددې فابریکو په فعالیدو سره زرګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې او د ملي اقتصاد په پرمختګ کې به رغنده رول ولوبوي.





# زېربناوې

کله چې په افغانستان کې نوی سیاسي تحول راغی او اسلامي امارت واک ته ورسېد، داسې انګیرل کېده چې ګني اسلامي امارت به د نړیوالو بندیزونو او په هېواد کې دننه د شته اقتصادي ننګونو له امله د هېواد د بیارغونې او اقتصادي ټیکاو رامنځته کولو جوګه نه وي. خو دا اټکل ځکه ناسم وخوت چې اسلامي امارت له دې ستونزو سره سره پر دې بریالی شو چې نوې او هغه پروژې عملي کړي چې کارونه یې نیمګړي پاتې وو. اسلامي امارت له درېیو کلونو په کمه موده کې پر دې وتوانید چې د کورنیو عوایدو پر مټ زېربنایي پروژې پیل او ځینې یې پای ته ورسوي. لامل یې دا دی چې لومړی خو اسلامي امارت د هېواد جوړولو کلک هوډ کړی، دوهم بشپړ امنیت یې راوستی او درېیم دا چې په هېواد کې اداري فساد نشته او په چارو کې روڼتیا رامنځته شوې ده. په همدې موخه یو شمېر هېوادونو په زېربنایي پروژو کې پانګونې ته زړه ښه کړ او کارونه یې پیل کړل. په همدې لړ کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د حمل میاشتې په ۱۹مه نېټه د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د بنسټ ډبره کېښودل شوه. محترم ملا صاحب د نېله باغ هستوګنیزې پروژې د چارو پیل د هېواد د آبادۍ په برخه کې مهم پرمختګ یاد کړ او ویې ویل، د افغانستان اسلامي امارت د نورو زېربناوو تر څنګ د ودانیزو پروژو د پلي کېدو په برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي، چې د نوي کابل د لومړي فاز دوهمه برخه او یوشمېر نورې پروژې یې د نمونې په ډول یادولی شو. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد اوسنی وضعیت او شرایط د پانګونې لپاره مناسب وبلل او زیاته یې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د ودانیزو پروژو په برخه کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې ده. د نېله باغ هستوګنیزه پروژه د چین په بلاعوضه مرسته جوړېږي، چې شاوخوا ۷۱ میلیون ډالره لګښت پرې راځي. په دغه پروژه کې ۱۴۰۰ هستوګنیز کورونه په ۵۶ بلاکونو کې په نظر کې نیول شوي، چې د جوړېدو چارې به یې په ۳ کلونو کې بشپړې شي.





## پایله

افغانستان د برېښـــنا د تولید، صنعت د پرمختګ د زېربناوو جوړولو او ترانسپورت د معیاري کولو او د خپلو اوبو په ښه ډول مدیریـــت له پاره هم سرچینې لري او هم فرصت. افغانستان پرېمانه روانې اوبه او د برېښنا د تولید له پاره زیاتې منابع لري؛ خـــو په هېواد کې د ځو لســیزو جګړو او زموږ پر هېواد د بهرنیو یرغلګرو د یرغلونو له املــه افغانان نه دي توانېدلي، چې له خپلو دې سرچینو څخه د برېښنا په تولید کې ګټــه واخلي. لا هم برېښـــنا له نورو هېوادونـــو واردوي او اوبه یې پرته له دې چـــې د کرنې په برخه کې ترې ګټه پورته شي، ورسره اقتصاد پرمختګ وکړي، بې ګټې روانې دي. لمر هم د برېښنا د تولید له پاره شـــته خو موږ ترې د نورې نړۍ په څېر ګټــه نه ده پورته کـــړې. زېربناوې، صنعت او ترانسپورت نورې هغه برخې دي چـــې کولای شي د هېـــواد په اقتصادي ټیکاو کې مرسته وکړي. نو په کار ده چې دې ټولـــو ته پوره پاملرنـــه وشي او ورسره هېواد پرمختګ وکړي. اسلامي امارت په همدې خاطر چې افغانستان په هره برخه کې په خپلو پښـــو ودروي، ددې برخو د پرمختګ له پاره یې متې را بډ وهلې دي. دا پورتنۍ پروژې چې پرانیســـتل شوې موخه یې داده چې په دې سکټورونو کې پرمختګونـــه رامنځته او افغانســـتان په اقتصادي لحاظ پیاوړی شي.




صنعت د هېواد د اقتصادي پراختيا لپاره د ملا د تير حيثيت لري؛ هر هغه هېواد چې د اقتصاد په برخه کې په خپلو پښو د درېدو هڅه کوي، اړ دی چې د صنعت په سکتور کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته زمينه برابره کړي. د همدې موضوع د اهميت په درک کولو سره اسلامي امارت هم صنعت ته د بستر برابرولو په موخه کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته زمينه برابره کړې او د صنعت کارانو بشپړ ملاتړ يې کړی.



اسلامي امارت ځان مکلف ګڼي چې د صنعت، کرنې، برېښنا او سوداګرۍ سکټورونو تر څنګ د ودانيزو پروژو په برخه کې هم کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې زمينه برابره کړي. د مسکوني ودانيو رغول د ښارونو د تعمير او د هېواد د اساساتو د جوړولو مهم اړخ دی چې ولس ته په معاصرو معيارونو برابره سرپناه برابروي.



د کور او ښار جوړولو له وزارت او کابل ښاروالۍ څخه غواړم چې په پلازمېنه کابل کې د تعميراتي چارو ستونزو ته په بېړني ډول رسېدنه وکړي او اجازه ورکړي چې ودانيز کارونه پيل شي، تر څو په دې برخه کې هېوادوالو ته د کار زمينه برابره او هم زېربنايي صنعت رشد وکړي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## پیغامونه

اسلامي امارت د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې غځولو پروژې ته د اهميت په سترګه ګوري او هر ډول ملاتړ ته يې چمتو دی. داسې او نورو سترو اقتصادي پروژو ته په افغانستان کې اوس تر بل هر وخت ښه زمينه برابره او د پانګونې نور ګڼ فرصتونه هم رامنځته شوي.



افغانستان او قزاقستان شته فرصتونو او اړتياوو ته په کتو سره په سيمه کې ښه اقتصادي شريکان جوړېدای شي او اړتيا ليدل کېږي چې دواړه دوست هېوادونه د کانونو، ترانسپورټ، ترانزيټ، سيمه‌ييزې زېربنا او بنسټيزو پروژو د پيل او مديريت په برخه کې يوځای کار وکړي، چې په نېږدې راتلونکې کې به د دواړو هېوادونو په اقتصادي ثبات، پراختيا او ښېرازۍ کې مؤثر رول ولوبوي.



له ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو غواړم چې په افغانستان کې د کانونو استخراج، ترانسپورټ، برېښنا توليد، صنعت، ټکنالوژۍ او نورو سکټورونو کې د پانګونې له شته فرصتونو ګټه پورته کړي. اسلامي امارت د کورنيو او بهرنيو پانګوالو له پاره ټولې اړينې اسانتياوې برابرې کړې دي او بشپړ ملاتړ يې کوي.





امارت اسلامی عزم و اراده قوی برای مدیریت منابع طبیعی دارد تا کشور را به خودکفایی برساند. به همین منظور در جلسات کابینه و کمیسیون اقتصادی امارت اسلامی در سطح کشور برای ارزیابی آنعده از بندها که کارهای آن باقیمانده تیم های تخنیکی تعیین شده است و برای ارزیابی و آغاز کار این بندها پلان های کاری جامع تدوین گردیده است.



بند پاشدان یک پروژۀ مهم و حیاتی برای ولایت هرات است و امارت اسلامی متعهد است که با تمام تلاش خود این پروژه را تکمیل و سعی می نماید که با صداقت کامل کار این بند را به پایه اکمال برساند. همچنان از شرکت قراردادی می خواهد که کار خود را به وجه احسن و امانتداری کامل در مدت زمان تعیین شده تکمیل و با کیفیت عالی به انجام برسانند.



زعیم امارت اسلامی عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله و دیگر مسؤلین متعهد هستند تا کشور را از مشکلات خلاص و برای مردم رفاه به ارمغان بیاورد که نمونه از این نیت را می توان در کارهای عملی در مناطق مختلف کشور مشاهده کرد.

## پیام های
# الحاج ملا عبدالغنی برادر اخند
## معاون اقتصادی ریاست الوزراء

سکتور ترانسپورت به عنوان بخش مهمی در رشد اقتصادی کشور نقش سازنده دارد و بر این اساس می توان این بخش را توسعه داد. با توجه به این اهمیت امارت اسلامی این سکتور را در اولویت های کاری خود قرار داده و به منظور تقویت و توسعه آن با کشور های همسایه و منطقه جلسات مستمر تدویر می نمایند.



سرک هرات - غور یکی از پروژه های مهم و ملی کشور است که ولایات هرات، غور، بامیان، دایکندی و میدان وردگ را به کابل وصل می کند. با تکمیل این شاهراه پیشرفت های مهم در تجارت و ترانزیت منطقه ای به میان خواهد آمد.



نمایشگاه ها برای معرفی محصولات صنعتی و زراعتی یک کشور برگزار می شود و دولت ها تلاش می کنند که برای محصولات خود در داخل و خارج از کشور بازاریابی نمایند. امارت اسلامی برای معرفی محصولات صنعتی و زراعتی افغانستان سلسله نمایشگاه ها را در داخل و خارج از کشور آغاز کرده است که نمونه خوب آن نمایشگاه تجارتی افغان - قزاق و سی و مین نمایشگاه بهاری محصولات زراعتی در کابل است.



Deputy PM for Economic Affairs,

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's


# MESSAGES



Following the re-establishment of the Islamic Emirate, infrastructural revitalization projects are underway, encompassing the reconstruction of key highways like Kabul-Kandahar and Salang Highway, as well as urban roadworks and extensive rural road networks. These initiatives are progressing swiftly, enhancing connectivity across the nation.

Elevating transportation services to meet citizens' needs, improving public transportation infrastructure, fortifying inter-provincial transportation links, fostering private sector investment opportunities, and instituting essential reforms constitute paramount priorities for the Islamic Emirate.





The implementation of the Pashdan Dam project holds significant promise, offering direct and indirect employment opportunities for thousands, storing approximately 54 million cubic meters of water, irrigating 13 thousand hectares of land, and generating two megawatts of electricity.

Deputy PM for Economic Affairs,

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

# MESSAGES

Agriculture and livestock serve as the backbone of economic growth; thus, the Islamic Emirate of Afghanistan is committed to fostering the agricultural sector, transitioning from traditional farming methods to mechanization, and embracing advanced agricultural technologies. These initiatives aim to propel the nation's economy forward.





To bolster the industrial sector, all governmental bodies are mandated to prioritize domestic products in procurement, even if their quality is marginally lower—up to 10 to 15 percent—than foreign alternatives. Moreover, the Islamic Emirate of Afghanistan has raised tariffs on numerous imported goods that have viable domestic substitutes, ensuring the fulfillment of citizens' needs.

Joint exhibitions between Afghanistan and Kazakhstan offer a platform for industrialists and entrepreneurs from both nations to forge agreements across various product lines and leverage each other's expertise. This collaborative effort is pivotal in boosting bilateral trade and fostering industrial development.



# Islamic Emirate Promotes Domestic Production through National and International Exhibitions




The Islamic Emirate has initiated a series of exhibitions both domestically and internationally to support and promote Afghan products. These exhibitions aim to showcase local goods, thereby facilitating market expansion for Afghan products within Afghanistan and abroad.

To boost and market domestic products, the Islamic Emirate has organized exhibitions not only in Kabul but also in other major cities across the country. Additionally, Afghan products have been featured in exhibitions in various neighboring and regional countries. A notable example is the Kazakh-Afghan International Exhibition held in Astana, Kazakhstan. Furthermore, Afghan products have been exhibited in Qatar, China, Iran, Malaysia, India, and other international venues.

The primary objective of these efforts is to foster industrial development, enhance domestic production, and increase exports. This dual approach aims to stimulate the country's industry and elevate national income levels.

In the near future, Afghan industrialists and investors are set to display their products in numerous booths at exhibitions hosted by China, Russia, and Uzbekistan.

Notably, these exhibitions have resulted in agreements worth billions of Afghanis between Afghan and international industrialists and investors, highlighting the success and impact of these initiatives.

to advancing construction projects alongside other critical infrastructure initiatives. Noteworthy examples include the ongoing development of the second part of the first phase of New Kabul City.
Moreover, Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund emphasized the Islamic Emirate's dedication to fostering an environment conducive to both domestic and foreign investment in construction projects. Despite formidable challenges, the Islamic Emirate remains resolute in its pursuit of national reconstruction and economic revitalization, leveraging infrastructure development as a cornerstone of progress.



## Conclusion

Afghanistan stands poised with abundant resources and opportunities for power generation, industrial development, infrastructure enhancement, transportation standardization, and effective water management. Despite possessing ample water resources and potential for power generation, decades of conflict and foreign intervention have hindered Afghanistan's ability to harness these assets for electricity production. As a result, the country continues to rely on imported electricity while its water resources remain underutilized for agricultural development, hampering economic progress.
Moreover, Afghanistan has yet to fully tap into solar energy, a renewable resource available in abundance. Additionally, sectors such as infrastructure, industry, and transportation hold immense potential to bolster the nation's economic stability. Recognizing the imperative of self-sufficiency across all sectors, the Islamic Emirate has been steadfastly dedicated to advancing these areas of development. The inauguration of the aforementioned projects underscores the Islamic Emirate's commitment to fostering progress and prosperity, aiming to fortify Afghanistan's economic resilience and pave the way for sustainable growth.



sectors, thereby contributing to the nation's progress and self-sufficiency.

Furthermore, on April 28, 2024, Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund officiated the opening of two pharmaceutical factories and a non-alcoholic beverage manufacturing facility, marking a significant stride towards industrialization. These endeavors signify a crucial step forward in the country's journey towards industrial self-reliance.




Indeed, the development of the industrial sector is integral to a nation's advancement, as it lays the foundation for sustained economic growth and prosperity. The Islamic Emirate remains steadfast in its commitment to nurturing a robust industrial ecosystem, recognizing that industrial development is synonymous with national progress and prosperity.

## Infrastructure

Following the re-establishment of the Islamic Emirate, doubts loomed over the nation's ability to rebuild and achieve economic stability, given the backdrop of international sanctions and prevailing economic constraints. However, contrary to these expectations, the Islamic Emirate has demonstrated resilience by embarking on new projects and revitalizing incomplete endeavors.

On April 7, 2024, Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund laid the foundation stone for the Nila Bagh Residential Project, marking a significant stride towards national development. Highlighting the project's commencement, Deputy PM Mullah Baradar Akhund underscored the Islamic Emirate's steadfast commitment



progress. With Afghanistan blessed with abundant natural resources including water, oil, gas, coal, and solar energy, domestic electricity production assumes paramount importance. By prioritizing self-sufficiency in electricity generation, the Islamic Emirate aims to bolster the nation's economic resilience and foster sustainable growth.

## Transportation



The transportation sector stands as a cornerstone of economic development, and recognizing its significance, the Islamic Emirate has embarked on ambitious initiatives to enhance road networks both within cities and across regions. On April 29, 2024, Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund inaugurated the commencement of construction for the Herat-Ghor road, underscoring the pivotal role of transportation in driving economic growth.

During the ceremony, Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund reiterated the government's commitment to prioritizing the transport sector, emphasizing its indispensable contribution to national development. Furthermore, on April 27, 2024, significant milestones were achieved with the inauguration of key road construction projects, including the second segment of the Khairkhana-Kotal road and various sections extending from Shahid Square to Qasaba and from the airport square to the customs office.

These comprehensive projects encompass the construction of bridges, streams, road-side green spaces, installation of essential utilities such as electricity, bus stops, and traffic signage, all vital components of a modern road infrastructure. The financial backing for these endeavors is provided by the Kabul Municipality.

The concerted efforts to revitalize road networks underscore the Islamic Emirate's commitment to addressing transportation challenges and alleviating urban congestion. Recognizing the paramount importance of a robust transportation sector in facilitating economic activities, the government remains steadfast in its endeavors to enhance and modernize transportation infrastructure. It is evident that until the transportation sector achieves optimal standards, the seamless flow of commerce and economic growth will remain constrained.

## Industrial Sector

Since the re-establishment of the Islamic Emirate, considerable attention has been directed towards fortifying and advancing the industrial landscape, recognizing its pivotal role in fostering economic growth. Significant strides have been made in revitalizing this sector, with the activation of production factories across major urban centers, alongside the establishment of new manufacturing facilities.

A notable milestone occurred on March 24, 2024, with the inauguration of the second and third phases of the Milat Steel Milling Factory, representing an investment of 50 million Afghanis. Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund presided over the ceremony, emphasizing the transformative impact of industrial development on the nation's economy. He urged industrialists and investors to channel resources into vital

## Water Management



Afghanistan boasts abundant water resources, making their efficient utilization and management imperative. Recognizing this, the Islamic Emirate is actively engaged in water governance efforts across the nation. On April 28, 2024, Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, inaugurated the final stages of the Pashdan Dam project in Herat province. This initiative underscores the Islamic Emirate's commitment to achieving self-sufficiency and fostering social and economic development through prudent management of natural resources, particularly water.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund emphasized the necessity of completing ongoing dam projects, citing the Pashdan Dam as a prime example. Afghanistan's agricultural potential remains largely untapped, with only 5.324 million hectares of arable land currently under cultivation. Moreover, the construction of dams is crucial for mitigating natural disasters, such as annual floods that inflict significant economic and human losses.


In light of these considerations, the Islamic Emirate has embarked on a comprehensive strategy to enhance water management practices nationwide, aiming to address agricultural needs, promote environmental resilience, and safeguard communities from natural calamities.

## Electricity Sector

Afghanistan possesses the capacity to harness approximately 223,000 megawatts of solar energy, yet its utilization remains limited. Recognizing the pivotal role of electricity in national development, the Islamic Emirate has embarked on initiatives to address the country's electricity challenges. On March 5, 2024, under the auspices of Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund, contracts worth approximately 4 billion Afghanis were signed between the Ministries of Finance, Water and Energy, Da Afghanistan Breshna Sherkat, and the private sector.

These agreements encompass four key projects aimed at enhancing electricity production and infrastructure. Among them are the development of a 23-megawatt solar power facility in Sarubi district, Kabul province, the construction of two substations in Herat province, and the expansion of 220-kilovolt power lines. Additionally, projects include the establishment of a commercial market in Kota E Sangi, Kabul city, and a mixed-use commercial and residential complex in Helmand.

Energy, particularly electricity, serves as a linchpin for economic



# Overview of Projects Initiated in 1403 SH

**Authored by:** Fazal Wali Sherani

## Introduction

During the current year, the Deputy Prime Minister for Economic Affairs has inaugurated 17 projects valued at approximately 60 billion Afghanis. These projects span across water management, electricity, infrastructure, and industry sectors, all pivotal for driving economic growth in the country.

Recognizing the significance of water resources, Afghanistan's focus on efficient water management is paramount, given the irreplaceable nature of water. Since assuming power, the Islamic Emirate has embarked on tangible initiatives in water management, power generation, road construction, and industrial development, with a multitude of projects underway or completed.



INFOGRAPHIC

# In the second month of 1403 SH, the Deputy PM for Economic Affairs inaugurated 8 significant projects.

## Transport Sector

### Projects

- Herat-Ghor Road
- Phase 2 of Khairkhana-Kotal Road, Kabul City
- Shahid Square to Qasaba Road, Kabul City
- Kabul Airport to Customs Office Road

### Total Cost

- 33 billion and 346 million Afghanis

### Sponsor

- Islamic Emirate of Afghanistan



## Industry Sector

### Projects

- Etook Pharma Pharmaceutical Manufacturing Factory, Herat
- Afghan Medicine Pharmaceutical Manufacturing Factory, Herat
- Shams Cola Non-alcoholic Beverage Manufacturing Plant, Herat

### Total Investment

- 2 billion and 470 million Afghanis

### Investors

- Private Sector




## Water Management

### Project

- Pashdan Dam

### Total Cost

- 8 billion and 424 million Afghanis

### Sponsor

- Islamic Emirate of Afghanistan





# Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund Inaugurates Five Projects

## Valued at Approximately 43 Billion Afghanis

During his visit to Herat on April 28, Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, inaugurated five major projects valued at approximately 43 billion Afghanis.

On the first day in Herat Province, Deputy PM Mullah Baradar Akhund inaugurated the manufacturing facilities of Etook Pharma and Afghan Medicine, along with the non-alcoholic beverage production factory of Shams Cola in the morning. Encouraging national businessmen and investors to invest in the country, he emphasized adherence to quality standards to maintain the Islamic Emirate's priority on quality and standards.

Etook Pharma's drug manufacturing factory, with an investment of around 720 million Afghanis, and Afghan Medicine's facility, with an investment of about 1 billion and 150 million Afghanis, are currently producing various medicines, significantly addressing the province's healthcare needs. Additionally, the Shams Cola non-alcoholic beverage manufacturing factory, requiring an investment of approximately 600 million Afghanis, produces a variety of beverages.

Later in the day, Deputy PM Mullah Baradar Akhund proceeded to Karukh district of Herat province to inaugurate the remaining works of the Pashdan Dam, highlighting its importance for Herat province's development. He assured the people of Herat of the Islamic Emirate's commitment to completing the project with high standards and within the designated timeline.

On April 29, Deputy PM Mullah Baradar Akhund visited Pashtun Zarghoon district of Herat to inaugurate the construction of the Herat-Ghor road, emphasizing the significance of this road for regional connectivity. He noted the commencement of highway reconstruction across the country and highlighted the importance of the Herat-Ghor road, which connects Herat, Ghor, Bamyan, Daykundi and Maidan Wardag provinces to Kabul through land transport.

These projects have provided employment opportunities for thousands of citizens and are expected to alleviate challenges in water management, agriculture, electricity, healthcare, and transportation upon completion.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund concluded his visit and returned to Kabul in the afternoon of April 29.

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, and Fazal Wali Shirani |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **Deputy Chief Editor:** | Ahmad Shah Rashed |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojournalist:** | Sayed Ashrat Rahmati |
| **Printing Press:** | Baheer Printing Press |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

Phone: 0202107500

Email: media@dpmea.gov.af

Website: dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**